مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۵/۰۹

# په دې یو ټکي مې خوښ دي جنتونه

## غزل

په دې یو ټکي مې خوښ دي جنتونه
چې د خان په نوکر نه وي ګوزارونه

هلته نشته دی اغزي چې پښو کې لاړ شي
دا ارمان نشته چې نه لرم بوټونه

دا بې شمېره هدیرې به پکې نه وي
بې منته بې کرایې به وي کورونه

نه یتیم شته ببر سرې وږې تږې
نه د خوارو وي شلېدلي ګرېوانونه

هلته نه وي خوک د کفر په تور لېست کې
نه ټوپک شته نه بارود شته نه بمونه

یو الله او تلوسه یې ده د وصل
نه حسرت شته نه هیبت نه نفرتونه

ژوند نه وتې به وي ساه باور به نه وي
د غزلو بـه یـې و شـي ارمانونـه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ